# فضل محمود مخفي د يو ماهر تعليم په حيث

ډاکټر سهيل خان

فضل محمود مخفي صيب (خدائے بخښلے) د پښتنو يو مستند نبض شناس ؤ. د ژور فکر او روحاني مشاهدې احساس ئې لرلو. د سماج د جوړښت او پرمختګ په آډانه پوهېدلو. مخفي صيب داسې وخت کښې سترګې غړولې وې چې پښتانۀ د غلامۍ زنځيرونو نه علاوه دوو نورو پيکړو کښې هم راګير وو. اول جهالت او دويمه معاشرتي ناروغتيا.

کله چې مخفي صيب د هشنغر سماجي کړکيچنو حالاتو سره مخ شو نو فکر ئې شروع کړو او دا بيمارۍ ئې د پختونخوا په ګوټ ګوټ کښې وکتې. مخفي صيب د نورو قامونو مطالعه شروع کړه. زۀ ستاسو پاملرنه دې طرف ته راګرځول غواړم چې مخفي صيب په شپږو ژبو اردو،هندي،انګريزي،فارسي،عربي او پښتو مکمل عبور لرلو.

د قومونو د پرمختګ مطالعې دې نتيجې ته ورسولو چې پښتنو نه چې تر څو د جهالت توري تيرې لرې نۀ کړے شي دوي خپل قامي جنګ نشي ګټلے. خو دا فکر ئې هم لرلو چې کۀ نېغ په نېغه پښتون سماج کښې کار ونشي نو مخفي رسمي تعليم دوي کښې بدلون نۀ شي راوستے. چونکې مخفي صيب ډېر ګرځنده سړے ؤ. نو د هغه ژوره مشاهده به د نورو قامونو سره د موازنې نه خالي نۀ وه. او خپلو تړولو ملګرو ته به ئې دا وې چې سماجي ساخت دپاره د کار کولو ضرورت دے.

مخفي صيب چې چرته هم تلے دے نو هلته ئې د تعليم او تدريس سلسله شروع کړې ده. د پښتنو درې مهم تعليمي تحريکونو باني مخفي صيب دے. اولنے تحريک کال ۱۹۱۰ حاجي صيب ترنګزو شروع کوۀ نو دا ئې د مخفي صيب د فکري اثراتو لاندې شروع کړے ؤ. دا تعليمي تحريک ۱۹۱۰نه تر ۱۹۱۵پورې جاري ؤ. ۱۹۱۰کښې مخفي صيب د ګدر مدرسه کښې معلم ؤ. دلته د حاجي صيب ځوي فضل شاه د مخفي صيب شاګرد ؤ.

دغه رنګ په سوات رياست کښې اولنے سکول هم مخفي صيب په کال ۱۹۲۲ مارچ کښې جوړ کړے ؤ. په دې سکول جوړولو باندې په مخفي صيب فيرنګي دا تور ولګولو چې دے د بالشويک نظريات خوروي. ,, او دا اراده هم لرې چې په ټوله قبائيلي سيمه کښې دا قسم سکولونه جوړ کړي. دۀ دا قسم دوه سکولونه باجوړ او سوات کښې د مخکښې نه جوړ کړي وو. په دې سکولونو کښې به تعليم مفت وي. او طريقه

تـعـلـيـم به ئې د آئيرليند مشن فين طريقه باندې ورکولے کېږي. او تاريخ به ور ته مسخ شوي انداز کښې ښـودلے شي. دې نه به زده کوونکي د انتها پسـندۍ سبق زده کوي او د انګريزۍ خلاف به ئې راپـاروي،،. (تـاريـخ رياست سوات صفحه ۱۷۷ ډاکټر سلطان روم)

دې سـره سم په کال ۱۹۲۰ دسمبر کښې د مـخـفـي صېـب او د عبـدالاکبر خان اکبر ملاقات کېږي پـه لکړو (مهمندو) کښې او مخفي صېب عبـدالاکبـر خـان د قوم خدمت ته بيداروي. او کله چې پـــه اپـريـل ۱۹۲۱ کښې د انـجـمـن اصـلاح الافاغنه بنياد کېښودے شو نو دا د مخفي صېب د ارمـانـونو جنج ؤ. د انجمن لاندې مخفي صېب په بـاجـوړ کښې څـلـور مـدرسې جوړې کړې. (۱) چـارمنګ(۲) بـاجوړ(۳) بـاجوړ ښـار(۴) چينګۍ ښار.

دغـه رنګ کـلـه چې امير امان الله خان له سـقـوط سره سم مخفي له کابله ووت او له لوګره بـاجـوړ تـه لاړ نو په ډنډ نومې ځائې کښې ئې يوه مـدرسـه جوړه کړه او کابل ته تر دويم ځلې راتګ پـورې هـم هـلـته ؤ. د امان الله سره تعلق جوړولو کښې مـولانـا عبيـدالـلـه سـندهي صېب د مخفي صېـب مـدد کړے ؤ. د جشـن استقلال په وخت په کـابـل کښې د امير امان الله خان په دعوت مخفي صېـب يـو تـاريـخـي تقرير کړے ؤ چې د هغې په

جواب کښې د روس سفير خپله وينا کښې دا خبره ډاکيزه وکړه کۀ ,,چـرې د مخفي صېب په شان يو څـو کسان نور پېدا شو نو دنيا کښې به يو قوم هم غلام پاتې نۀ شي،،.

د نـادرخان په وخت کښې مخفي صېب يو ورځپاڼه ,,انيـس،، چلوله چې هغې کښې به ئې د پښتـنـي سيـمې سـتـونـزې او کشـالې رابـرڅيـره کـولې. د نـادرخان مرګ (۱نـومبر۳۳) نـه پـس مـخـفـي صېب لکړو ته راغے او حاجي صېب سره استـوګـن شـو. دې ځائې نه بېرته کوټو(دير) ته لاړو. هـلـتـــه د هـغـــه ځـلـمے ځوي فضل معبود د اوولـسـو کـالـو عـمر کښې پـه حق ورسېدو. دې د مـخـفـي صېـب پـه شخصيت ډېر ځانکړي اثرات وغورځول.

په کال ۱۹۳۴ کښې مـخفي صېب واپس چـارسـدې ته راغلو او دلته په آزاد اسلاميه هائي سـکـول اتـمـانـزو کښې سينئر مدرس مقرر شو. دلتـه به ئې د عربۍ او انګريزۍ تعليم ورکولو نه عـلاوه پـه مشـاعرو کښې ګډون کولو. او د خپلې سـوچـه مينـې او وطـن والۍ شـاعرۍ سره ئې د مـئـينتوب جذبه د شونډو او سترګو په ځائې وطن ته راوګرځوله.

ماسټر کريم وائي چې د اتمانزو آزاد هائي سکول نه مخفي صېب په کال ۱۹۳۲ کښې دير ته واپـس لاړو ځـکـه چې د ديـر نـواب په خپل قامي

سکول کښې صدر مدرس مقرر کړلو. (د ماسټر کريم لور ناهيد بيګم سره انټرويو چې ,,د قلم څوکه ډېره تېره وي دا تا په مخکښې بوځي)

صديق الله رښتين صېب ليکي چې مخفي صېب ديارلس څوارلس کاله د درس و تدريس کار کړے دے. په مخفي صېب اوسه پورې دوه کتابونه شلمان صېب (۱) کښې او دا اوسنے کتاب ,,مولوي فضل محمود مخفي،، او دويم کتاب زلمي هېوادمل له اړخه کابل کښې چاپ شوے دے.

په کال **۱۹۳۵**کښې آزاد هائي سکول اتمانزو کښې د مخفي صېب د تدريس دوران دوه شاګردان(دوست محمد خان او ګل ماما) ماته خپل انټرويوز کښې ووئيل چې د خپل ځواني مرګ ځوي فضل معبود غم د مخفي صېب په شخصيت ډېر زيات اثر غورځولے ؤ. او اکثر به خفه او خاموشه ؤ.

کال ۱۹۳۷ کښې مخفي صېب د دير نواب وغوښتلو او هلته ئې د اسلامي سکول دير صدر مدرس مقرر کړو. او تر مرګه هم هلته ؤ. مخفي صېب په ۲۸ مئ ۱۹۴۷ کښې په حق رسېدلے ؤ. او ماتګي کښې خاورو ته وسپارلے شو.

مخفي صېب د پښتنو اولنے Indigenous ماهر تعليم ؤ چې ټوله مبارزه ئې د فرنګي په ضد کړې ده. مخفي صېب د پښتنو جديد ملي شاعر ؤ. وطن پرست ؤ. نمر پرست نۀ ؤ. سماجي کارکن ؤ. په سماجي ساختونو پوهېدلو. د جومات او حجرې دواړو واحد پښتون مالک ؤ. د مذهب په بنديزونو هم پوهېدلو. خو د حجرې په فراختيا هم کلتوري ماهر ؤ.

مخفي صېب د حاجي صېب ترنګزو راه راست ؤ. کلک ملګرے ئې ؤ. بل اړخ ته د امير امان الله خان او باچاخان استاد هم ؤ. خپله ژوند کښې د عبيدالله سندهي او شيخ الهند نه متاثره ؤ. د مولانا عبدالعزيز سره ئې نژدې تعلق ؤ. د خپل ژوند آخري خط ئې هم مولانا عبدالعزيز اتمانزو ته لېږلے ؤ(۱۱مارچ ۴۷)

## د تعليم باره کښې مخفي صېب وائي

جهله ورک شي مونږ دې ورک کړو
مونږ ورکېږو ارمان ارمان دے
جهل نشته دا سړے پرې مست وي
زمونږه هر تن مست په خپل ځان دے

ټول عالم بېدار شو،پاځيد په خپل کار شو
پوهه شو هوښيار شو،زده کړې ته تيار شو

هغه قوم ژوندي وي چې جذبات د شهادت لري
جمع په ځان کښې استقلال علم و حکمت لري
بې د استقلاله هنر جنګ کښې پڅه توره ده
توره دې تېره ساتي هر څوک چې د جنګ نيت لري
علم د انسان د فوقيت دے يو محکم نشان
دا صفت جهاد سره ډېر لوئې مناسبت لري

☆☆☆